# الله دې هغه سړی تازه او ښاد لري چې له موږ څخه څه واوري، او لکه څنګه يې چې اورېدلی وي نورو ته يې ورسوي، ځکه ځينې وختونه هغه څوک چې خبر رسوي، له هغه چا نه ښه پوهېږي چې خبر يې اورېدلی وي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «الله دې هغه سړی تازه او ښاد لري چې له موږ څخه څه واوري، او لکه څنګه يې چې اورېدلی وي نورو ته يې ورسوي، ځکه ځينې وختونه هغه څوک چې خبر رسوي، له هغه چا نه ښه پوهېږي چې خبر يې اورېدلی وي».

[صحيح]

نبي صلی الله علیه وسلم دعا وکړه چې الله تعالی دې هغه چا ته په دې دنيا کې ښايست، خوشحالي او ښکلا ورکړي، او په اخرت کې دې هغه چا ته د جنت ښايست، نعمتونه او تازه ګي ورسوي چې د هغه حديث واوري، ياد يې کړي او نورو ته يې ورسوي، کېدای شي هغه څوک چې حديث ورته رسول شوی وي، له اورېدونکي څخه ښه پوه او ځيرک وي، نو لومړی کس په حفظ او روايت کې مهارت لري، او دويم کس په پوهه او استنباط کې.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6820